سردارمحمد همدرد
۲۰۱۷/۰۵/۲۳

# د حزب او جمعیت کینایي


ښاغلی سردار محمد همدرد

حزب او جمعیت د افغانستان د دوو لويو سياسي ګوندونو څخه شميرل کيږي دا دوه ګوندونه په تيرکي يو د بل سره جګړي هم وکړي ان چي د کابل د کورني جګړو تور دوي يو پر بل باندي اړوي داسي هم ويل کيږي چي په تيرو پنځلسو کالو کي د انجينر ګلبدين حکمتيار سره چي د سولي خبري بريالي نه سوي يوه خبره هم دا وه چي جمعيت د سولي شورا په خپل لاس کي اخيستي وه او دا يو واقيعت دی کله چي د سولي شورا د جمعيت د منګلوخلاصه او پيرسيد احمد ګيلانی چي د دي شورا مشر وتاکل سوو د ښاغلي حکمتيار سره د سولي خبرو نتيجه ورکړه، که څه هم يو تعداد شنونکو د حکمتيار راتګ اوازي بللي خو د دي برعکس ښاغلی حکمتيار راښکاره سو او په افغانستان کي پر جنګ نه بلکي پر سولي ټينګار وکړ.
کله چي حکمتيار صحنې ته داخل سو ترټولو لومړی د دوي او د جمعيت يو پر بل کينايه بريدونه پيل سول.
حکمتيار  هم خپل په خبرو کي دا وويل چي د افغانستان واک به کوچني ډلي ته په لاس کي ورنه کړي او د واک انحصار يادونه يي هم وکړل او دي ته ورته نوري ګړګندوني هم وي چي اشاره يي جمعيت ته وه، د دي سره جوخت عطا محمد نور مستقيماً د حکمتيار د خبرو وروسته داسي وويل چي د حکمتيار خبري لمس کوونکي دي او دا يي د افغانستان د راتلوونکي لپاره ښه ونه بللي.
ده وويل چي د حزب اسلامي مشر داسي چلند کوي لکه حکومت چي ده ته تسليم سوي وي ده د حزب اسلامي مصلحه کسانو د خالي صلاح کيدوغوښتنه هم وکړه
ده وويل که داکار ونه سي د هيواد امنيتي حالت به نور هم خراب سي خو حکمتيار په خپلو وروستيو څرګندونو کي چي د ولسي جرګی د مشر عبدالروف ابراهيمي په کور کي يي وکړي وويل: زه د افغانستان عدلی او قضايي ارګانونو څخه غوښتنه کوم چي د مخکنيو جګړو په اړه دي پلټنه وسي مجرم دي وښودل سي او بيله ثبوته چي څوک چاه ته د مجرم ګوته نيسي هغه په خپله مجرم دی.
زه نه غواړم چي دلته د چاه په اړه قضاوت وکړم ما پخوا هم ويلي وه چي جهاديانو د جهاد ستر ارزښت ونه ساتي او دوي به تاريخ ته ملامت وي زه يوه خبره کوم چي عطامحمد نور عبدالرشيد دوستم اومحقيق چي په دي وطن کي د سياست کولو حق لري نو حکمتيارهم دا حق لري داسي نه چي دوي ښاغلي دي او  هغه بد دي.هغه متل دی چي وايي (شوږ ښه ده که ګله مه يوه ويني مه بله)
اوس خبره داده چي موږ لا ولي د تاريخ څخه عبرت نه اخلو د خداي په خاطر نور پر دي وطن زړه وسوځی په دا لنډ وخت کي څه ونه کړه سولی يو ځل د روس او امريکا درسی کښيو ښکار سو روس راغلی وه او امريکا يي دوتلو لپاره هلي ځلي کولي اوس امريکا راغلي ده روس يي دوتلو کوښښ کوي.
يوه ورځ مجاهد او خلقي بله ورځ تروريست يو نامه او بل نامه باندي سره په رنګ ولړل سو خپل کورکلي مو وران کړل وينی توي کړي سرکونه، پلونه، ښوونځي اوعامه تسيسات مو وران کړل ملت مو په نس وږي کړ ماشومان مو بي پلاره کړل تور سري موکونډي کړي بوډي مور د ځوانمرګ زوي په غم کي وژړول، اخير وايوچي موږتوره وهلي ده زموږ توره هغه وخت ثابت کيداي سي چي موږ پر خپلو پښو ولاړ مستقل افغانستان ولرو.
اوس خو مو هرڅه له لاسه ورکړي دي نه خپل اختيار لرو اونه هم خپل اقتصاد د هيواد سياسيون مو د پرديو سفارتو او استخباراتو سره د اړيکو ټينګولو کوښښ کوي او په دي کي خپل بقا ويني.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزي بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

د افغانیت د غرور او ارزښتونو پروا نسته دا هرڅه د همدغو مشرانو د غلطو سیاستونو له امله راسره کیږي زه د یوه افغان په توګه ټولو ته یوه مشوره ورکوم راځئ تیر هیرکړو د سره فکروکړو او نور خپل وطن د توپکسالاري، بي عدالتي او جګړي څخه وژغورو څکه چي په جګړه کي نور هم غلامان کیږو زموږ عزت په یوموټي او سولیز افغانستان کي دی.
په درنښت



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ